قاری عبدالحنان تره کی ۳۱/۰۱/۲۰۱۴

اسدالله خالد د شخصی دشمنی نه تر سیاسی تربګنی

د ۱۳۹۱ کال د دلوی د میاشتې په شپاړسمه نیټه د کابل ښار د تایمنی په اتم سړک کی واقع د حاجی اسدالله خالد(چې په هغه وخت کی د ملی امنیت د جاسوسی اداری رئیس وو)، په یوه شخصی میلمستون او بندارخانه کې یوه انتحاری حمله وشوه چې په نتیجه کی یی حاجی اسد الله خالد سخت زخمی شو او بیا ډیر ژر د تداوی لپاره جرمنی او بیا امریکی ته واستول شو. د کرزی اداری او دوی ته نږدې کړیو پر حاجی اسدالله خالد انتحاری برید د افغانستان د دشمنانو کار وباله او دا عمل یی په سختو ټکو و غانده او د افغانستان خلکو هم دا ګمان وکړ چې ګواګې حاجی اسدالله خالد ربښتیا هم طالبانو یا د کرزی د دولت د ویاندویانو په اصطلاح ترورستانو ټپی کړ.
د کرزی اداری د کورنیو چارو(پخوانی) وزیر محتبی پتنګ په مشری یو هیئت موظف کړ ترڅو دا قضیه و څیړی او د تحقیقاتو نتایج د جمهوری ریاست مقام ته وړاندې کړي. یو کال تیر شو خو نه پتنګ صاحب خپل راپور نشر کړ او نه هم د افغانستان استخباراتو اداری د حاجی اسدالله خالد د قاتلینو هویت افشا کړ. دا چې ولې دا ګزارش خپور نه شو، په داسی حال کی چې د امنیت ملی اداری شپږو کسانو په شمول یوه میرمن هم په دی اتهام ونیول، ولی نشر شول؟ د تأمل او حیرانی ځای دی!؟ ملی امنیت خو چې یو ترورست ونیسی، ژر ژر یی له تصویر او اعترافاتو سره د مطبوعاتو په مخ کی ودروی او لاسته راوړنی په نوم یی افغانانو ته ور ښکاره کړي. د حاجی اسدالله خالد قاتلین یا د انتحاری حملی عاملین ټول ونیول شول خو اعلان نه شول دا ولی؟؟ ډیر افغانان په دی نه دی خبر چې د حاجی اسد الله خالد ترور د طالبانو کار نه بلکه د شخصی تربګنیو او ناموسی تجاوزاتو یو انتقام وو چې حاجی خالد یی د مرګ او ژوند تر مینځ حالت ته ورسولو. دا ځکه چې د حاجی خالد د ترور پلان ترورستی نه بلکه د شخصی انتقام او د افغانی ناموس او ننګ نه د دفاع یو کار وو. کوم کسان چې ونیول شول او له نیکه مرغه بیرته د کندهار د وکیلی فریبا احمدی کاکړ په بدل کی خوشې شول طالبان نه بلکه د حاجی اسد الله خالد د تره زامن او د تره نګور وه چې د ناموسی انتقام او غچ اخیستو لپاره یی دا کار وکړ. زه چې د غزنی د ناوی یو عادی اوسیدونکی یم او د دی حادثی د ابتدا نه په جریان کی وم او د دی حادثی د عاملینود نیولو نه هم خبر وم ډیر منتظر وم چې ملی امنیت یا د کورنیو چارو وزارت ویاندویان به په غټو غټو جملو د دی (لاس ته راوړني) مطبوعاتی کنفرانس ونیسی خو کال تیر شو او خبر هیر شو... نه نیول شوی عاملین اعلان شول او نه د کورنیو چارو وزیر افغانانو ته ګزارش ورکړ چې د هیواد د استخباراتو اول درجه نفر څنګه په خپل شخصی میلمستون او بندار خانه کی سخت ټپی شو؟؟ اوس چې هم د ملی امنیت، د کورنیو چارو وزارت او هم پر اسدالله خالد مین او مهربان کرزی غلی اوخاموش پاتی شول غواړم دغه حقیقت افغانانو ته څرګند او عیان کړم :مرحوم علم ګل د عبدالواحد زوی چې په حاجی اسد الله خالد یی انتحاری حمله وکړه د غزنی د ناوې د خواجه خیلو اوسیدونکی وو، زما همزولی او ملګری وو ښایسته ځوان وو. د طالبانو په وخت کی یی دوکانداری کوله کله چې طالبان مات شول او د کرزی دوره راغله حاجی خالد د شمالی ټلوالی په مرسته غزنی ته په ډیر شان و شوکت راغی. بادیګاردان، وسلی، موټران او شمال ټلوالی ته ترلی پنجشیری (نه ټول پنجشیریان) اندیوالان ورسره وو. په ناوه کی یی د خپلو تربرونو او خپلوانو سره ډیره ناروا او ظلم شروع کړ. کله چې د غزنی والی شو نو د ظلم او کبر دایره نوره هم غټه شوه او چې کندهار کی والی شو بیخی (نعوظ بالله)د خدایی او کبر دعوا یی وکړه .په ناوه کی یی د ټولو تربرونو ځمکی او جایداد غصب کړ او ټول یی کډی کولو او هجرت ته مجبور کړل. د خپل اکا زوی دینار خیل نه یی اتیا جریبه ځمکه او یو کاریز په زور را ونیول او د هغه پیغلی لور ته یی بی ناموسی ور وړوله. دینار خیل د خلکو له شرمه له ناوی و تښتید او په کویټه کی مهاجر شو. کله چې کویټه کی طالبان پیدا شول دینارخیل او علم ګل او یو بل د ناوی مشر د حرکت انقلاب جهادی قوماندان محی الدیی د انګو د کلی مشر ورسره شول او طالبانو ته یی عذرونه کول چې مونږ ته وسله او امکانات راکړی مونږ د کندهار والی حاجی اسدالله خالد وژنو او هم به انتقام واخلو هم به ثواب وګټو طالبانو او د کویټی شورا یو ځل دوی ته یو موټر بم اماده کړ او یو انتحاری سره او په کندهار کیبی یی د ده په موټر انتخاری حمله وکړه چې د قسمت او تقدیر له برکته حاجی خالد بچ شواو د هغه وخت د اطلاعاتو او کلتور وزیر کریم خرم سخت ټپی شو او څوکسه نور ژوبل شول. بیا کله چې حاجی اسد الله خالد د امنیت ملی رئیس شو دغه کورنی بیا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

طالبانو ته ورغله چې مونږ آماده یو، یو کس تلف کړو او خپل انتقام واخلو او په حاجی اسد الله خالد حمله وکړو. طالبانو ورسره ومنله او دا ځل یې ورته ډیر جدید قسم انفجاری مواد چې اوبلن لری ورکړل او دینارخیل له علم ګل سره یو ځای کابل ته راغلل. انفجاری مواد یې د خپلې نګور په لاس چې منظوره نومیږی کابل ته راوړل ..او په کابل کې یې د یو بل خپلوان چې حاجی اسدالله خالد ته ډیر نږدی کس وو او اوس هم په غزنی کې د استخباراتو مامور دی، په ذریعه حاجی اسدالله خالد ته پیغام ولیزه چې له کویټې نه یې د طالبانو یو مهم پیغام راوړی دی. حاجی خالد هم ومنله او ده سره یې د ملاقات وعده وکړه. د ملاقات په جریان کې علم ګل خپل ځان ته انفجار ورکړ خو د حاجی اسد اجل نه وپوره شوی خو سخت ټپی شو. وروسته د کورنیو چارو وزارت او ملی امنیت د دی حادثې په اتهام د غزنی د ناوی د کلی اوسیدونکی دینار خیل، د دینار خیل نګور «منظوره»، د ناوی د خانخیلو د کلی محمد نعیم اکا، د منظوری ورور محمد فهیم او د ناوی محلی قوماندان ملا محی الدین ونیول او کابل ته یې یوړل. څه موده مخکې زه د تجارتی کاروبار په سلسله کې کویټې ته تللی وم چې دینارخیل او ملا محی الدین می هلته ولیدل حیران شوم ما تری پوښتنه وکړه چې تاسو خو د کابل حکومت د حاجی اسدالله خالد د وژلو په اتهام په دوسیه کې نیولی وی دلته څه کوی؟؟ هغوی راته په خندا وویل د طالبانو دی کور ودان وی کله یې چې د کندهار وکیله فریبا احمدی کاکړ په غزنی که برمته کړه نو د کرزی دولت ډیر عذر وزاری شروع کړی چې د او کیله را خوشی شی طالبانو ورته د شلو بندیانو د راخوشی کولو غوښتنه وکړه او د خدای له کرمه جار شم کرزی ومنله او شل تنه یې را خوشی کړل چې زه (دینارخیل) ملا محی الدین او منظوره هم پکی شامل وو .کله چې را خوشی شو نو مستقیما کویټې ته راغلو او دلته طالبان مونږ ته د قهرمانانو او اتلانو په سترګه ګوری او لوی ملا صیب خو زما نګور منظوری ته د بطل البنات یا د ښځو قهرمانه خطاب او لقب هم ورکړ ما چې د دینارخیل اکا خبری واوریدې د خدای قدرتونو ته حیران شوم. چې ذلت او عزت د خدای په لاس کی دی نه د ولایت، امنیت او جنګسالارانو په وسلو موټرو او ډالرو کی ...حاجی اسد نه تنها د دینار خیل کورنی تباه نکړه بلکه ځان یې تباه کړ ..دینار خیل خو د خپلې لور د بې ناموسی او بی عزتی انتقام واخیست او حاجی اسد یی د ټول عمر لپاره له جنسی خوند او تولد او تکثره محروم کړ. خو حاجی اسدالله خالد نه هم دین لاړ هم دنیا اوس د امریکی کومه شفاخانه کی د مرګ په انتظارشپی ورځې سبا کوی!! فاعتبروا یا اولی الابصار

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ